زمانی در غزوه احزاب ابتلای الهی بر مسلمانان شدید شد و پیامبر صلی الله علیه وسلم با تدبیر بشری خواستند صفوف مشرکین را از کید و مکر بر مسلمانان متفرق فرمایند با سران غطفان که بزرگترین جزء لشکر مشرکین بودند در برابر انصراف شان از جنگ عقدنامه ایرا که ثلث میوه مدینه را به آنها بدهند آماده نمودند و برای ابرام آن هر دو سردار اوس و خزرج سعد بن معاذ (رض) و سعد بن عباده (رض) را به مشوره خواستند آن دو فرمودند که اگر این امری است که شما دوست دارید انجام دهیم و یا از جانب الله جل جلاله حکم شده است یا بخاطر مشکل ما می فرمائی؟ پیامبر در جواب فرمود: بخاطر شما انجام می دهم زیرا عرب از کمان واحد بر شما جمع شده اند و از هر جانبی به جنگ شما آمده اند می خواهم شوکت آنها را بشکنم. سعد بن معاذ (رض) گفت: یا رسول الله ما و اینها در شرک و عبادت بت ها بودیم، خدا را نمی شناختیم و نه عبادت او را انجام می دادیم، اینها (مشرکین) در میوه مدینه طمعی نداشتند مگر آنکه به اکرام مهمان به آنها چیزی آورده می شد یا می خریدند اکنون که خداوند ما را به اسلام عزت بخشیده و هدایت فرموده و به قدوم مبارک تو عزیز گردانیده چگونه به آنها اموال خود را بدهم، به این حاجت نداریم، جز با شمشیر با چیزی دیگر در برابر آنها قرار نمی گیریم تا آنکه خداوند در میان ما و آنها حکم کند. آنهائی که غزوه احزاب را با دقت مطالعه نموده اند و تعبیر قرآنی (اذالقلوب لدی الحناجر) در شدت مصیبت بر مسلمانان را از حضور هزاران دشمن آن طرف خندق و غداری یهود بنی قریظه را در داخل مدینه آگاهی یافته اند به عظمت شأن پیامبر و قیمت پذیرفتن این مشوره در چنان ظروف خطیر پی برده می توانند.

بنیادهائی را که خلفای راشدین رضوان الله علیهم خاصتاً سیدنا عمر (رض) در رابطه با شوری در میان مسلمانان و التزام خلیفه به آن و ابرام امر پس از استدلال کافی با اصحاب رأی نقش تاریخ جهان نموده اند با جرأت می توان گفت که پیشرفته تر از نظام های موجود در سراسر جهان است.

عدهٔ از دانشمندان مسلمان را عقیده بر این است که پیامبر (صلی الله علیه وسلم) در حالیکه با منبع وحی و هدایت الهی همواره راهش منور می گردید ممکن بود در همه موارد ضرورت با آیات قاطع خداوندی رهنمائی و ارشاد می شدند و از مشوره عالم انسانیت بی نیاز می بودند اما برای آنکه شوری بحیث یک مبدأ جاویدان در حیات مسلمانان باقیماند مواردی را پروردگار عالمیان مقدر فرموده تا به این سنت ضرورت افتد. پیامبر به مشوره بپردازد و کسانی که پس ازوشان در میان امت اسلامی به هر مقام و حیثیتی برسند بدانند زمانی پیامبر بزرگ با همه عظمت از مشوره مسلمانان روی نگردانیده هیچ فرد دیگری حق آنرا ندارد خود را از مشوره اهل رأی مسلمانان بی نیاز شمارد و به استبداد بپردازد.

ما به این ایمان داریم اگر از این مبدأ غفلت نمی شد جای شورا را استبداد رأی حکام غافل نمی گرفت و مصلحت جویان در برابر آن خاموشی اختیار نمی نمودند امروز در سراسر ربع جز اسلام دین دیگری نمی بود و چه خوش گفت آن مستشرق غربی که اگر عمر دیگری بر روی زمین بیاید در روی زمین جز اسلام دین دیگری جا نخواهد داشت.

باید هم چنین گفته شود زیرا آنچه را که اسلام در تاریک ترین دور تاریخ که مدنیت های امروز غربی در آن بسر می بردند به بشریت ارزانی نموده است تنها در دو قرن اخیر در متمدن ترین کشورهای اروپائی و امریکائی آنهم با انحرافی ترین صورت آن پس از دادن قربانی ملیونها انسان و خراب و دمار شهرها و آبادی ها نصیب گردیده اند و هنوز در جهان ما نقاط تاریکی وجود دارد که برای رسیدن به شمه ای ازین حق در میان خون دست و پا می زنند .

(ادامه دارد)

څوکۍ امانت دی نه د پیسو ګټلو کان

محمد خلیل

د احادیثو په کتابونو کې روایت دی چې کله حضرت ابوذر رضی الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم نه په حکومت کې د منصب غوښتنه وکړه نو محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

((انها امانة وانها یوم القیامة خزی وندامة)) یعنې دا منصب او سرکاري مسؤولیت یواځې د پیسو د ګټلو ذریعه نه، بلکې امانت دی، څوک چې ددې حق ادا نه کړی شي نو هغه لپاره دقیامت په ورځ دغه منصب د رسوایي او پښیماني سبب ګرځي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه مبارک حدیث زموږ لپاره د عبرت درس دی، او موږ ته ددې خبرې بلنه راکوي چې کله هم په حکومت کې د منصب اخستلو لپاره چمتو کېږو نو د محمد صلی الله علیه وسلم ددغه مبارک حدیث مفهوم به خامخا په ذهن کې ساتو چې کوم حکومتي منصب ته اوړه ورکوم دا له مانه بشپړ دیانت او امانتداري غواړي، دا یواځې د معاش د ترلاسه کولو ذریعه نه بلکې زما لپاره لوی ازمیښت هم دی، که په ایمانداري او دیانتداري سره مې ترسره کړه نو هم ثواب او هم خرما او که په امانت داري او ایمانداري سره مې ترسره نه کړه نو که په دې دنیا کې نه وي په هغې دنیا کې خو ضرور رسوایي او ندامت دی.

ډېر افسوس چې په افغانستان کې منصبونه له لومړی ورځې نه په رشوت او واسطو ترلاسه کېږي په ځانګړی توګه لوړې څوکۍ خو په لکونو ډالرو خرڅېږي او یواځې هغه خلک لوړو منصبونو ته رسیږي چې پریمانه پیسې په رشوت کې ورکولې شي.

داسې یو هېواد چې هلته له جمهوري ریاست نه نیولې د پارلمان وکیلانو او د مشرانو جرګې سناتورانو پورې د لکونو ډالرو د رشوت له لارې منصبونو ته رسېږي هلته به د امانتداري، ایمانداري او دیانت داری څرک څنګه ترسترګو کېږي؟ !

دلته منصبونه د هېواد او ولس د خدمت لپاره نه بلکې د بیت المال د لوټلو او له ولس نه د څرمن د ویستلو لپاره ترلاسه کېږي تر څو پنځه واړه ګوتې په غوړو کې او په څو کلونو کې د غټو غټو پلازو، بلند منزلونو او هوټلونو مالکان شي.

په افغانستان کې چې فساد ورځ تر بلې زیاتېږي او یوه اداره هم له اغیزی نه یې پاکه نه ده پاتې، ددې ستر لامل همدادی چې لوړې څوکۍ له لومړی ورځې نه په رشوت اشغال شوي دي، دچا تقوی، اهلیت او امانتداري ته نه دي کتل شوي بلکې دهغه پیسو، اثر رسوخ او جایداد ته کتل شوي دي، په داسې حال کې چې د الله تعالی او دهغه د رسول حکم دا دی چې امانتونه دهغوی اهل او مستحقو خلکو ته وسپارئ یعنې هغو خلکو ته چې خیانت او ټګي پکې نه کوي او په پوره امانتداري سره یې ترسره کوي.

هغه چارواکی چې د پیسو د ورکولو په صورت کې د اقتدار په ګدی ناست وي هغه ته به څوک وویلې شي چې له فساد درغلی او بډې اخستنې څخه لاس واخلي، هغوی لکونه ډالره په دې خاطر په رشوت کې ورکړی وي چې له هغه نه څو برابرې زیاتې پیسې پیدا کړي، عزت یې هم وشي او ګټه یې هم، سرکاري کور ورته هم ورکړی شي او باډي ګارډان هم، دفتر ته به هم د عسکرو په حفاظتي کاروان کې ځي او کور ته به هم په ډېر شان او شوکت سره راستنېږي، زامنو لپاره به جلا جلا نوی ماډل کروزین او تړوډي ګاډي ولاړې وي، د نړی په هر ګوټ کې چې وغواړي درسونه وویلی شي او د نړی په هر روغتون کې چې زړه یې وغواړي خپله درملنه وکړي.

د حکومت لوړې څوکی او لوی منصبونه د ودانی بنسټیزې ډبرې دي، که چېرته دغه بنسټیزې ډبرې کږې او سرسري ایښودل شوي وي نو پر هغې کله هم یو مضبوطه ودانی نه شي جوړیدلې او که د جوړولو کوښښ هم وشي نو سرته نه رسېږي، له بده مرغه په افغانستان کې پر بنسټیزو او کلیدي څوکیو د تقرری لپاره له بولې نه کار اخستل کېږي هر څوک چې زیات بولې ورکړي همغه ددغې څوکی اهل ګڼل کېږي، کله چې د لوړی څوکی خاوندان پخپله د زیاتې بولې ورکولو په ګناه کې ککړ وي او له لومړی ورځې نه د فساد تخم یې کرلې وي نو له هغوی نه د شفافیت او روڼ والي تمه کول که له حماقت پرته نور څه کیدلې شي ؟ !

په هېواد کې دداسې عناصرو او اشخاصو مثال د سل ناروغی دهغو مکروبونو په څېر دی چې بدن ته له ناروغی او بالاخره له هلاکت پرته بل څه نه شي ورکولې، هېواد هم د یو انسان د جسم او بدن حیثیت لري، هغه بدن له ناروغی او هلاکت څخه محفوظ پاتې کېدلې شي چې د ناروغی له ډول ډول جراثیمو او مکروبونو څخه په کلکه ډډه کوي او له هر هغه خوړو څخه پرهیز کوي چې مکروبي شوې وي او که بالفرض د ناروغی کوم ویروس بدن ته داخل هم شي نو د مکروب ضد قوي دوا سره یې له منځه وړي. متأسفانه افغانان د خپل هېواد د سلامتیا او استحکام له فکر نه غافل دي ددې پر ځای چې فاسد، غله، بډه اخستونکي خائن او بې مسؤولیته مکروبي عناصر د هېواد له کلیدي عهدو څخه لیرې وساتي پخپل لاس خپل ځیګر او زړه ته دننه کوي. څرګنده خبره ده چې کله موږ افغانان پخپل لاس خپل زړه او ځیګر ویروس ته د سپارلو حماقت کوو نو بیا دروغ بدن تمه کول د لیونی خوب لیدل نه دي نو څه دی؟ ! که موږ افغانان واقعاً غواړو چې خپل هېواد له دغو وژونکو ویرسونو څخه وساتو نو بیا زموږ اسلامي او ملي مسؤولیت دا دی چې د ولسمشری له څوکی نه نیولې تر ولسي او ولایتي شوری د استازو د ټاکلو په وخت داسې اشخاص منتخب کړو چې هغوی ایمانداره، دیانتداره او پرهیزګاره وي او دهغو اشخاصو له ټاکنو څخه کلک پرهیز وکړو چې هغوی له وړاندېنه د حرامو روږدې وي.

فواید نظام شورایی در تشکل اسلامی

(ادامهٔ از صفحه اول)... ((بنابر رحمت الهی در برابر آنها انعطاف و نرمش اختیار نمودی و اگر کم حوصله و قسی القلب بودی، (یارانت) از ماحول تو پراگنده می شدند. پس از (قصور) آنها درگذر و برای ایشان آمرزش طلب کن و با ایشان در مسایل مشوره کن، آنگاه که عزم کردی، برخدا (ج) توکل کن، یقیناً که الله جل جلاله توکل کنندگان را دوست دارد.)) (آل عمران آیه ۱۵۹)

همچنان الله جل جلاله ضمن برشمردن ویژگی های اهل ایمان در آیهٔ ۳۸ سوره شوری چنین می فرماید:

((وامرهم شوری بینهم)) ترجمه: کار و معامله مسلمانان از طریق شور و کنکاش در میان شان حل و فصل می شوند.

این آیهٔ بظاهر کوتاه با مفهوم رسا و پرمحتوایش، بیانگر این حقیقت است که فرد و یا جمع مسلمان هیچگاهی در اتخاذ تصامیم خود رأی نبوده و همیشه خواست، مشوره و مصلحت بار اهل رأی را مدنظر داشته باشد.

استشاره و مراجعه به آراء اعضا و اراکین تشکل اسلامی در مسایل مهم و سرنوشت ساز، باوجود آنکه ظاهراً کم اهمیت جلوه کند، ولی از نگاه روان شناسی اجتماعی دارای فواید زیادی می باشد، از آن جمله:

الف: مراجعه به آراء قاعده سازمان و یا تشکل اسلامی، در موردیکه منافاتی به احکام صریح اسلام نداشته باشد، مصلحتی است بزرگ و پرارزش که پیوند دوستی و محبت قاعده تشکل را با رأس آن تقویت می نماید.

ب: اولیای امور (هیأت اجرایی) باید متوجه باشند که قدرت و درستی تحلیل گروهی به مراتب قرین به حقیقت است نسبت به تحلیل فرد و یا معدود افراد رأس یک سازمان.

ج: تصامیمی که خلاف خواست قاعدهٔ سازمان اتخاذ گردیده و به منصهٔ اجرا گذاشته شود، مواجه با دشواری هایی می شود که مصالح اجتماعی سازمان را برهم زده و عواقب ناخوشایند اختلاف و انشعاب را در قبال دارد.

بناءً لازم است که یک تحریک اسلامی در کلیه موارد با تکیه براصل شوری اقدام نماید تا بدینوسیله بتواند پیوند قلبی و رابطه روحی میان رأس و قاعده سازمان را استوار نگهدارد، و در نهایت احساس مسؤولیت و تعهد را در اعضا رشد داده و استعدادهای نهفته آنها را در صحنه تبارز بدهد.

حضرت علی (رض) روایت میکند که من باری خدمت رسول الله صلی الله علیه وسلم عرض کردم که اگر پس ازرحلت آن حضرت (صلی الله علیه وسلم) معامله ای پیش آید که در آن زمینه، نه حکم قرآن صراحت داشته باشد ونه از پیامبرخدا (صلی الله علیه وسلم) چیزی را شنیده باشیم، پس درآن مورد باید چه کنیم؟ آن حضرت (صلی الله علیه وسلم) فرمود: ((شاوروا فیه الفقهاء والعابدین ولا تمضوا برأی الخاصة)) (رواه الطبرانی)

ترجمه: درین صورت با علمای دین و اشخاص عابد مشوره کنید و تنها به قضاوت شخصی فیصله مکنید.

خلفای راشدین در امور مربوط به اداره و نظم اجتماع، هیچ کاری را بدون مشوره با اهل رأی انجام نمی دادند به تأسی از همین ارشادات قرآنی و احادیث نبوی (صلی الله علیه وسلم) بود که حضرت ابوبکر صدیق (رض) در مواجهه با مسایلی که حکم قرآن و حدیث در مورد آنها صراحت نداشت، معاریف، نخبگان و دانشمندان امت را فراخوانده و در زمینه با ایشان به مشورت می پرداخت و نتیجه آنرا مستمسک و نصب العین خود قرار می داد. چنانچه همین روش را سایر خلفای راشده نیز مراعات می کردند.

مهمترین مشخصه و امتیاز تشکل اسلامی از تشکل غیر اسلامی درین نکته نهفته است که زعامت تشکل اسلامی مقامی است انتخابی که به اساس مشوره و رأی مسلمانان بر گزیده می شود؛ ولی زعامت در تشکل های غیر اسلامی مقامی است تشریفاتی و یا موروثی که اغلباً به وسیله زور، زر و تزویر بدست آمده و رأی و مشوره سالم مردم در گزینش آن هیچ نقشی ندارد.

پس بر هیأت رهبری تشکل اسلامی لازم است تا در نشست های شورا، زمینه را برای اظهار نظریات سالم و آراء سازنده مساعد سازد و در گزینش رئیس و هیأت اجرایی و اتخاذ سایر تصامیم منوط به مسایل مهم و سرنوشت ساز، بارعایت صداقت و اخلاص و احترام به جایگاه و منزلت اشخاص، دور از رفاقت ها، رقابت ها و عصبیت های ناروا و بالاخره منهای اغواگری و جوسازی اقدام نمایند و به فرد فرد اعضای شورا فرصت بدهند که پس از شور و کنکاش کافی و تبادل نظر و تضارب آراء، تصامیم و فیصله های شان را در قبال قضایا و مسایل جاری و حاد حزب و کشور، در فضای آرام و برادری اعلان نمایند.

د حزب اسلامي افغانستان مرستیال انجنیر محمدخان د رهبری شورۍ غونډې ته د تېرو دوو کلو کاري راپور وړاندې کړ

(د لومړي مخ پاتې برخه)

د تیری رهبری شوری نه تر نن پورې د حزب اسلامي د کړنو راپور وړاندې کوم. درنو حضارو! هغه اجراآت چې پدې موده کې ترسره شوي دی، تاسو محترمین یې د هغو ظروفو او شرایطو په نظر کې نیولو سره ارزیابي کړئ، په کومو کې چې حزب اسلامي افغانستان قرار لري. په یاد وساتئ چې ستاسو شتون، ستاسو فعال حضور متأسفانه ځنو داخلي او خارجي حلقو ته د منلو او تحمل وړ ندی. الحمدلله حزب اسلامي د تحصیل یافته، مجربو او بادیانته کدرونو په لرلو سره، افغان مؤمن ملت ته د خدمت کولو پوره اخلاص او عملي پروګرامونه لري، خو په زیاته خواشینۍ سره باید عرض کړم چې ددې تنظیم له کدرونو لازمه ګټه نده اخستل شوی او په موجوده نظام کې دولتي مناصب او پوستونه د مصلحتونو تر ناولي او کرکجن چتر لاندې په اقاربو او د پردی په انډیوالانو ویشل کېږي.

ددې حالاتو په نظر کې نیولو سره چې په ډېر مؤجز او مختصر انداز کې مې د درنو حضارو توجه ورته راجلب کړه، د حزب اسلامي د تقریباً دوه کلنو اجراآتو راپور په لاندې توګه وړاندې کېږي.

الف – در بخش امور ولایات:

حزب اسلامی افغانستان توانسته است با امکانات ناچیز خویش در هفت ولایت کشور شوراهای ولایتی و در بیست ولایت دفاتر ولایتی را فعال سازد. در هفت ولایت متباقی تا حال به ایجاد دفاتر و یا تشکیل شوراها موفق نه شده ایم، در بعضی ولایات علاوه بر دفاتر ولایتی، در ولسوالی های ولایت مربوطه نیز دفترها فعال گردیده است.

ب – د ځوانانو په برخه کې:

د حزب اسلامي د ځوانانو سازمان پدې وروستیو وختو کې د خپلو تشکیلاتو په منظم کولو د لنډ مهاله تربیتي نصاب په جوړولو او هفته وار و تدریسی پروګرامونو په تعقیبولو سره ښې لاسته راوړنې درلودی. دارنګه شمال، جنوب، ختیځ او جنوب غرب ته د منظمو هیئتونو په استولو سره یې علاوه له دې چې په کابل کې د ځوانانو په تنظیم کې رغنده رول ادا کړی، په ولایاتو کې یې هم ځوانان تر ډېره حده راټول او خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړیدي. همدا ډول د نیک مرغو او تاریخي ورځو د اهمیت او فلسفې په اړه، د ځوانانو د مسؤولیتونو په رابطه، د روژې د مبارکی میاشتې د فضیلت په اړه یې د زرهاؤ بروشرو په چاپولو او ویشلو کې مسؤولانه قدمونه اوچت کړیدي. د ځوانانو د اساسنامې ترتیبول او د حزب په سترو غونډو کې فعاله او رغنده ونډه اخستل ددې ټولنې نورې لاسته راوړنې دي.

ج – سازمان زنان:

سازمان زنان حزب اسلامی افغانستان که بتاریخ ۱۷/عقرب/۱۳۸۹ در شهر کابل هسته گذاری گردید، با تلاش های پیهم خواهران مؤمن و خداپرست توانستند درس های منظم قرآن عظیم الشان، تجوید، تفسیر شریف، احادیث، فقه، عقاید و بعضی مسایل مهم اسلامی را با هیچ نوع امکانات تعقیب نمایند، یکهزار شرکت در جلسه شوری صلح زنان افغانستان و رساندن پیام سازمان زنان حزب اسلامی به آنان، ملاقات با خانم مسلمان خارجی و تشریح اهداف سازمان به او، تقبیح هفت ثور در سال ۱۳۹۰، ارتباط با خواهرانی در ولایت های غزنی، دایکندی، لوګر و پروان جهت گسترش و ایجاد شاخه های سازمان در ولایات و اشتراک فعال در جلسه بزرگ حزب اسلامی در کابل از دست آوردهای دیگر سازمان زنان می باشد.

د – فرهنګي ځانګه:

د حزب اسلامی د فرهنګي ځانګې فعالیت چې اکثراً د شهادت جریدې په بڼه کې څرګند دی د ۱۳۸۷ کال د جوزا له ۲۵ مه نیټې شروع، په لومړیو وختو کې پنځلس ورځنی او بیا یې اونیزې خپرونې لرلې، اوس یې سربیره پر دې چې په هره اونۍ کې ۱۵۰۰ ګڼې اخبار له چاپه راوځي، په استرالیا، امریکا، اروپا او آسیا کې ۱۵۰ مراجعو ته د انترنټ له لارې استول کېږي. له دې نه علاوه فرهنګي ځانګې د لویو جلساتو په تدویر او نظم کې فعال رول درلودلی دی.

هـ – فعالیت های سیاسی:

حزب اسلامی افغانستان از طریق کمیته سیاسی کانال های ارتباط فعال را با احزاب سیاسی افغانستان، سفارت های مختلف و سازمان های مدنی ایجاد و در جلسات متعدد سازمان های مدنی و احزاب سیاسی شرکت ورزیده است. اخیراً حزب اسلامی به همراهی احزاب دیگر طرح های خوبی به ارتباط قانون انتخابات و قانون تشکیل، صلاحیت و وظایف کمسیون های انتخابات و شکایات انتخاباتی ارائه کرده اند، تفاهم و جلسات منظم با احزاب و شخصیت های ملی و سیاسی کشور جهت رسیدن به یک طرح مشترک و قابل قبول در انتخابات آینده ریاست جمهوری جریان دارد.

و – امور پارلمانی:

پداسې حال کې چې حزب اسلامی د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو په دوو دورو انتخاباتو کې له خپلو کاندیدانو سره هیڅ ډول مادي مرسته نده کړی، بیا هم د حزب اسلامي متعهدینو پخپل هغه نفوذ او محبوبیت چې په ملت کې یې درلود، د ټولو درغلیو سره سره په پراخه کچه ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو او په همدې سلسله مشرانو جرګې ته لار پیدا کړی ده، د حزب اسلامي مرکزي دفتر د پارلمان د دوارو اطاقونو له حزبي متعهدینو سره تماسونه درلودلی وقت ناوقت یې د ځنو مهمو اجنډاؤ په رابطه مشوری کړی دی، خو دا تماسونه او جلسات تراوسه هم لازم توام ته ندي رسیدلی.

دا ؤ هغه اجراآت چې د وخت د کمي په وجه په اختصار ستاسو حضور ته عرض شو د یادولو وړ ده چې د دارالانشاء اجراآت چې د حزب په داخل کې او له حزب نه دباندې د ټولو اداري تماسونو او مکتوبونو راکړه ورکړه او د فیصلو او مهمو اجراآتو ثبت دی په نورمال ډول اجراآت شوی دی.

در اخیر عرض باید کرد که اجراآت و کارکرد ما بادرنظرداشت امکانات ناچیز که اکثراً از طریق کمک های وقفه ئی و نامنظم اعضای حزب بدست آمده دست آوردهای خوب تلقی باید کرد، و اما آنچه جداً ضرورت پنداشته می شود:

۱- وقف نمودن قسمتی از اوقات کاری تمام منسوبین حزب در امور تنظیمی.

۲- تنظیم نمودن حق العضویت ها، اعانه ها و کمک های دیگر افراد حزب.

۳- ترتیب، تنظیم و عملی ساختن رابطه درست تشکیلاتی از رأس هرم تا قاعده و برعکس آن.

این بود گزارش مختصر کاری که خدمت تان عرض گردید.

اجلاس شورای رهبری حزب ...

از اعضای شورای رهبری معذرت خواست. (متن تفصیلی این بیانیه را در صفحات همین شماره شهادت مطالعه خواهید فرمود.)

پس از آن انجنیر محمد خان معاون حزب اسلامی افغانستان گزارش اجراآت ریاست حزب اسلامی و کارکردهای ریاست های آنرا بطور جداگانه قرائت کرد که تفصیل آن را در همین شماره مطالعه می فرمائید.

پس از آن ناظم مجلس بخاطر بحث روی مسایل دعوتی، سیاسی، تشکیلاتی و سایر قضایای جاری حزب و کشور با اعضای شورا به مشوره پرداخت که به کدام طریق روی قضایا بحث کنیم تا در کمترین وقت به نتیجه مطلوب و مؤثر برسیم.

پس از تجویز طریقه بحث، شورای رهبری روی برخی مواد اساسنامه حزب اسلامی بحث کرده و موارد ضروری را بخاطر تطابق با اقتضای عصر و زمان به تصویب رساندند.

بعد از آن اعضای شورای رهبری به چهار کمسیون تقسیم شدند و هر کمسیون بطور جداگانه روی مسایل دعوتی، سیاسی و تشکیلاتی، بحث های را آغاز کردند.

گزارش توحید شدهٔ کار کمسیون ها و نتیجه رأی گیری برای انتخاب رئیس جدید حزب اسلامی و انتخاب اعضای شورای اجرائیه جدید را در شمارهٔ آینده مطالعه خواهید کرد.

تجربه

دوکتور عبدالوهاب "حسام"

اتمه برخه
(تېر پسې)

یو ویشتمه تجربه: څه موده وړاندې د ارشاد حج و اوقاف وزارت لخوا د ښځو د حقوقو په هکله یو ورکشاپ جوړ شوی و، ما هم په دې ورکشاپ کې د سامع په حیث ګډون درلود، د ښځو د حقوقو په هکله اکثره خبرې له یوې خوا تکراري او له بلې خوا زمونږ په ټولنه کې پرې عمل نه کېږي؛ ځکه چې د ښځو دا حقوق اصلا ځینو بدو عاداتو تر پښو لاندې کړي، او قاعده دا ده چې (العادهٔ محکمهٔ) او همدغه لامل و چې دا ورکشاپ ډېر زړه راښکونکي نه و.

خو دا ډول سیمنارونه یا ورکشاپونه زما په اند ځنې پوښتنې چې ګډونکوونکي یې کوي مالګین کوي؛ په یاد ورکشاپ کې یوې خور د مولوي صاحب نه پوښتنه و کړه، چې یو سړي ماته و ویل: ستا خو د کور، کالیو او ډوډۍ مسئول خاوند دی، کار ته څه ضرورت لرې؟ دې ته څه خواب و وایم؟ هغه مولوي صاحب ما ته مخ راواړولو ویې ویل: ته په کې څه وایې؟ زه ودریدم او هغې خور ته مې و ویل: مونږ دوه عمده مشکله لرو: اول مونږ عموماً په دین او د دین په غوښتنو نه پوهیږو، دوهم که فرضا پوه شو بیا پرې عمل نه کوو، نو خبره همیشه د بدو بدتره کوو، بیا مې هغې ته و ویل: خورجاني تاسې هم کوښښ و کړئ چې په دین کې اقلاً د خپل ځان په هکله (ما لکم و ما علیکم) خو زده کړئ؛ چې له ځانه دفاع و کړای شئ، دلته یوه بله خور ناسته وه، ډیر په قهر یې ما ته را وکتل او په دري ژبه یې و ویل: زه ستا د خبرې سره سل په سلو کې مخالفه یم، ما ورته و ویل: دلیل دې څه دی؟ هغې و ویل: انسان حتمي او ضروري ناروغه کیږي او د علاج لپاره باید ډاکټر ته ولاړ شي، ما ورته و ویل: خورکې ستا خبره معقوله ده، زه یې بلکل منم، خو زه له تانه یوه پوښتنه کوم، هغې و ویل: مهرباني، ما ورته و ویل: ایا کله هم داسې شوي چې ستا د کورنی ټول غړي په یو وار په یو ډول ناروغی اخته شوي وي،؟ تر کومه حده چې ما ته معلومات دی زمونږ د اکثره خویندو ظرفیتونه ټیټ، معلومات ډیر ضعیف او خصوصاً دیني معلومات یې بلکل صفر دي، او یوه بله ستونزه دا ده چې، تاسې له یوې خوا له نارینه و نه د خپلو مشکلاتو د حل په هکله پوښتنې کوئ او له بلې خوا پرې بد ګوماني کوئ او ځواب یې نه اورئ؛ ځکه چې تاسې نارینه ظالمان، او حق خوړونکي یې بولی، بیا مې هغې لومړی خور ته و ویل: خور جانې الله پاک فرمایي: ژباړه: مؤمنان سړي او مؤمناني ښځې یو د بل مرستندویه او مددګار دي، د شرعي حدودو په نظر کې نیولو او مراعتولو سره د خپل خاوند سره په کومک کولو کې کومه ستونزه نه شته.

دوه ویشتمه تجربه: څو ورځې د مخه د سلام پوهنتون نه خوشال خان ته راروان وم، باغ بالا سره د موټرو په بیړ وبار کې بند شوم، کله ولاړ او کله روان، خو زمونږ د افغانانو خصوصاً ځوان یو دیرش کلن نسل چې په جنګ کې را لوي شوي او د خرپ او ترپ قاعده یې د خپل ځان لپاره شریعت ګرځولي او فقط دا یې زده کړي چې (قید یې کړه) دوي حتمي ځان د داسې حالاتو نه وباسي، او که دا نوي ماډل موټر ور سره وي او د اتلانو نه د یو اتل عکس یې هم لګولی وي نو بیا به یې د چا پلار را ټینګ کړي، دوي د ځان په خلاصون کې حق او نا حق ټول تر پښو لاندې کوي او په دې کې نه د خداي نه ویریږي او نه د خداي د بندګانو نه، او د ځینو چارواکو په څیر چې له قدرت نه ناوړه استفاده کوي، دوي د اتل د عکس په زور په لارو کې سر چپه روان وي، بس د دوی توره دا وي چې ځان خلاص کړي او بس.

زه ولاړ وم، یو نا څاپه مې درز واورید، موټر مې و لړزید، چې مخ مې راواړولو یو لینډ کروزر مې ولید چې څلور پنځه کسه ځوانان په کې ناست وو زما نه واوخت، پوه شوم چې همدي زما موټر و واهه، خو تر څو چې زه را کوز شوم لینډ کروزر لاړ و تښتید. زه په دې خپه نه شوم چې زما موټر یې و وهلو؛ ځکه چې ټول تاوان د زړو افغانیو نه زیات نه و، زه اصلاً خفه په دې شوم چې څلور پنځه کسه ځوانان چې د لکو زیاتو کم ډالرو په موټر کې ناست دي او د اتل عکس یې هم مخکې او وروسته په شیشو لګولی د زرو روپو د تاوان نه وتښتیدل، دا تاوان هم بلا پسې، سوال دادی چې دا مونږ چې هر وخت خولې خلاصې کړي او د اسلام اسلام چیغې وهو، ایا اسلام دې ته وایي چې بل ته ضرر و رسوه او تښته؟ ایا زمونږ ځوانان دومره بې تهذیبه شول؟ که دومره بې تهذیبه وي، نو بیا خو د دې مستحق نه دي چې ذ اتل عکس په خپل موټر و لګوي، ځکه دا د اتل په حق کې ظلم دی، دوی په خپلې بې ادبۍ او بې همتی سره د وطن اتل خلکو ته بد معرفي کوي.

دا خبره تیره شوه خو ما د خپل ځان سره دا پریکړه و کړه چې که خداي مه که چیر ته داسې یو کار زما نه و شي زه به حتمي او ضروري ودریږم او ښښنه به غواړم.

بله ورځ سلام پوهنتون ته روان وم، یو دوه زنانه چې وړې انجونې هم ور سره وې په سرک تیریدې زه د هغوي لپاره ورو شوم او متو جه نه شوم موټر مې لږ کټ کړو وروسته راپسې موټر ډیر تیز راورسید او زما سره ولګید، زه ودریدم راکښته شوم وروستی موټر لږ خراب شوی و، ما ورته و ویل: ډیره ښښنه غواړم، مقابل ډریور ځوان هلک و خپل موټر ته یې و کتلو او بیا یې ما ته و کتل و یې ویل: زه یاره په مخه دې ښه پروانه کوي، که څه هم زه دریور یم او موټر پردی دی، ګوره په یوه وړه خبره ما د هغه ځوان هلک غوصه اداره کړه او هغه دې ته تیار شو چې تاوان و منې او ما ته اقلا یوه بده خبره هم و نه کړي، نو که هغه ځوانان هم ولاړ وایې او همدومره یې ویلي وایې چې ښښنه غواړو نو څه به شوی وایې؟.

(نور بیا)

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

ولسمشر کرزی څنګه کولای شي له ځانه قهرمان جوړ کړي؟

نیویارک ټایمز ورځپاڼې په وروستۍ ګڼې کې: جمهور رئیس کرزی څنګه کولای شي له ځانه قهرمان جوړ کړي؟ تر سرلیک لاندې یوه مقاله لیکلې او په یوې برخې کې یې لیکي:

په امریکا کې خلک په هرو څلور کلونو کې د رایو صندوقونو ته ځي او په بې صبرانه ډول د نوي مشر د ټاکلو لپاره انتظار باسي تر څو وکړای شي هېواد یې د سو کالۍ پر لور پر مخ بوځي.

خو په افغانستان کې خبره بل ډول ده. هر څومره چې انتخابات نږدې کیږي، خلک وراخطا کیږي او دا ځکه هیڅوک نه پوهیږي چې له انتخاباتو وروسته افغانستان به څه ډول وي.

د دې خبرې یو علت دا هم دی، چې په تېرو وختو کې د افغانستان په انتخاباتو کې درغلۍ او شخړې شوې وې او دا ځل هم خلک انتخاباتو ته زیات هیله من نه دي.

ورځپاڼه وړاندې لیکي: یوازې یو کس کولای شي د انتخاباتو په اړه د خلکو اندیښنې او نا هیلی لرې کړې او هغه جمهور رئیس کرزی دی.

جمهوررئیس کرزی د اساسي قانون پراساس د دریم ځلې کاندیدۍ حق نه لري، خو کولای شي د سالمو او عادلانه انتخاباتو لپاره لار هواره کړي، دولتي او حکومتي ادارې او ارګانونه داسې فعاله کړي، چې په هېواد کې شفاف او عادلانه انتخابات ترسره کړي او داسې یو حکومت جوړ شي، چې په ریښتیا هم د خلکو استازیتوب وکړای شي.

نیویارک ټایمز وړاندې لیکي: جمهور رئیس کرزی په دغو ارګانونو واکمن دی او که وغواړي، چې هغوي سم کار وکړي نو انتخابات باید د خلکو له غوښتنو سره سم تر سره کړي.

په داسې یوه حالت کې به جمهور رئیس کرزی چې د کار په دورې کې له زیاتو انتقادونو سره مخامخ و، له دندې وروسته په تاریخ کې ښه نوم وګټي او د افغانستان په سیاسي او انتخاباتي ډګر کې به یو سالم او غوره میراث هم پرېږدي.

د سولې او جګړې د انسټیټوټ خپرونې په وروستۍ ګڼې کې: افغانستان په فساد کې ښکیل دی – تر سرلیک لاندې یو مضمون لیکلی او په یوې برخې کې یې راغلي:

په افغانستان کې هر سړی پوهیږي، چې په هېواد کې یې ادارې فساد حاکم دی او دا مرض دوا یا درملنه هم لري.

خپرونه د مثال په ډول د بلخ ولایت د ښاروالۍ یادونه کوي، چې ښاروال یې په جګ اواز د اداري فساد پر ضد د مبارزې خبرې کولې، خو په ناستو خلکو کې د نیک بابا په نامه یو افغان د ښاروال خبرې قطع کړې او ویې ویل: په خپله د بلخ ښاروالۍ تر ټولو زیاته په اداري فساد کې ښکیله ده او ښاروال باید له ځانه پیل وکړي.

خپرونه لیکي: د بلخ ښاروال له یو څه چوپتیا وروسته د نیک بابا خبرې تائید کړې او دا ځکه، چې هغه په بلخ ولایت کې زور واکانو ته د دولتي ځمکو د ویشلو مسله راپورته کړه.

د سولې او جګړې د انسټیټوټ خپرونه لیکي: د افغانستان په نورو ولایتونو کې هم د نیک بابا په څېر کسان او د اداري فساد مثالونه شته، چې دغه ناوړه عمل خلک تر سرېمو رسولي دي.

په بلخ ولایت او نورو سیمو کې د خلکو شکایتونو، چې په مختلفو ارګانونو کې د فساد موجودیت تائیدي، خلک په حکومت کې په اصلاحاتو بې باوره کړي دي.

روزانه حدود ۵ هزار خریطه سمنت از پاکستان وارد افغانستان می شود

کابل، رسانه ها:

با آنکه افغانستان در سال های گذشته یکی از باکیفیت ترین سمنت جهان را تولید می کرد اما اکنون بخشی اعظم سمنت این کشور از پاکستان وارد می گردد. به گفته تجار کشور، در حال حاضر روزانه بیش از شش صد لاری سمنت از پاکستان وارد کشور می شوند.

حاجی سنگر ویس یک تن از تجار وارد کننده سمنت به روز چهارشنبه گفت که بخشی اعظم سمنت مورد نیاز افغانستان و کشور های آسیای میانه از پاکستان تمویل می شود.

وی در ادامه گفت: "روزانه ۶۰۰ تیلر سمنت از راه تورخم وارد افغانستان می شود و از اینجا دوباره ۲۰۰ تیلر آن به تاجکستان انتقال داده می شود مشکل اساسی اینست که سمنت غوری روزانه ۳ موتر تولید دارد و در افغانستان حدود ۱۵۰۰ تیلر سمنت نیاز دارد و سمنت غوری در حال حاضر ۳ تیلر تولید دارد."

قبل از جنگ های داخلی در افغانستان تمام سمنت مورد نیاز کشور از طریق تولید فابریکه های سمنت غوری، سمنت جبل السراج و فابریکه هرات مرفوع می گردید. اما به اثر جنگ های داخلی در کشور تمامی این فابریکه ها تخریب گردید و گفته می شود که قسمتی از وسایل این فابریکه ها هم دزدی شدند.

هرچند حکومت افغانستان این فابریکه ها را به شرکت های خصوصی واگذار کرده است، اما دیده می شود که تولیدات این فابریکه ها تاکنون به حدی نرسیده که بتواند یک بخشی از نیازمندی کشور را مرفوع بسازد.

در همین حال شماری از کارشناسان افغان به این باور اند که کشور های منطقه به خصوص پاکستان نمی گذارد که فابریکه های تولید سمنت کشور روی پا بی ایستند. این کارشناسان می گویند، اگر تولیدات سمنت کشور تقویه شود، صادرات سمنت پاکستان به افغانستان کاهش خواهد یافت و این کار به ضرر پاکستان ات.

سیف الدین سیحون یکی از این کار شناسان

ډیلي ټایمز:

پاکستانیان د افغانستان د وېشلو په اړه مختلف نظرونه لري

کابل، رسنۍ:

د پاکستان چاپ ډیلي ټایمز ورځپاڼې په نننۍ ګڼه کې ویلي چې په پاکستان کې د افغانستان د تجزیه کېدو په اړه مختلف نظرونه موجود دي. ځینې پاکستاني سیاستوال او دیپلوماتان وایي چې پاکستان ته غښتلی او متحد افغانستان پکار دی، خو ځیني نور بیا وایي چې افغانستان دې د دې لپاره وویشل شي چې سوله پکې راشي.

د دوی په نظر دېرش کلنې جګړې د افغانستان ټولنه او دولت له منځه وړی دی او اوس افغانستان په یوه ناکام، په جنګ کې ښکېل، په فساد ککړ او غیر فعال دولت بدل شوی دی.

ډیلي ټایمز وایي، د افغانستان قبایلي او قومي جوړښت ته په کتو په دې هیواد کې هیڅکله مسلکي اردو نه ده جوړه شوې له همدې کبله له څو لسیزو راهیسې دا هیواد په قبایلي، شخصي او جنایتکارو باندونو متکي دی.

ورځپاڼې د افغانستان د تجزیې لپاره په واشنګټن او لندن کې د وروستیو بحثونو یادونه کړې او د د دغو بحثونو د مطرح کوونکو لکه رابرټ راتبرګ هغه دلایل یې رااخیستي چې د افغانستان ټوټه کېدل په سیمه کې د سولې لپاره ګټور بولي.

ډیلي ټایمز وایي چې پر افغانستان څو پېړۍ درانیانو حکومت وکړ خو د پښتونو افغانانو په ژوند کې یې تغیر رانه وستلی شو، له همدې کبله د دغه هیواد د زړې شخړې د حل یوازینۍ لار دا ده چې دا هیواد وویشل شي.

د ډیلي ټایمز په نظر د افغانستان په شمال کې جنګي جنایتکاران او د کرزي د حکومت ځیني عناصر د قدرت د نامتمرکز سیستم غوښتنه کوي خو وایي چې که په قومي بنیاد سره وویشل شي په ټوله سیمه کې به سوله راشي.

ورځپاڼه زیاتوي، د ۲۰۱۲ په مې کې د امریکا متحدو ایالتونو له افغانستان سره د ستراتیژیکو همکاریو موافقه لاسلیک کړه او د پاکستان او افغانستان ترمنځ یې د ډیورنډ کرښې د لېرې کېدو وړاندیز وکړ.

امریکایي جنرال ډیوېډ پیترایس هم وړاندیز کړی چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ نړیوال سرحد دې له منځه یووړل شي. دیورند کرښه د افغانستان او پاکستان پښتانه سره ویشي.

ورځپاڼه د ډیورنډ کرښې په اړه له یو لړ توضیحاتو وروسته، چې ګواکې افغان حکومتونو په ضمني ډول هغه په رسمیت پېژندلې ده، لیکلي: کارپوهان پوهېږي چې په قومي بنیاد د افغانستان د وېشل کېدو په صورت کې به شمالي افغانستان یو خوندي، امن او په عین حال کې مدرن او خپلواک هیواد وي خو د جنوب پښتانه به پرېښودل شي چې له پاکستان سره یوځای شي.

ډیلي ټایمز د افغانستان د تجزیې د ردولو په باب په کابل کې د امریکا د سفیر د څرګندونو یادونه کړې خو ویلي یې دي چې د دوی له مالوماتو سره سم عملاً د تجزیې د پلان د تطبیقولو لپاره کار پیل شوی دی.

امریکایی جنرال د جنسي تېري ...

اسوشیتید پریس وایي چې د دفاع وزارت دوو چارواکو د نوم د نه افشا کېدو په شرط ورته وویل چې برید جنرال جیفري .اې. سینکلایر به ممکن په پوځي محکمه کې د جبري زنا او نامشروع جنسي روابطو او له خپل واک څخه د ناوړه استفادې په تور محاکمه شي.

برید جنرال سینکلایر، چې په افغانستان کې د ۸۲ هوایي فرقې د لوژیستیکي او حمایوي چارو مرستیال قومندان و، د مې په میاشت کې پر ده د لګول شویو تورونو په خاطر امریکا ته واستول شو.

خو د ده تورونه پرون چهارشنبه په شمالي کارولینا کې رسماً په یوه خبري غونډه کې اعلان شول.

لاری های مملو از ریال ایرانی ...

درصد سود زمینهء انتقال پول را فراهم می سازند."

به نوشتهء نیویاک تایمز این معاملات عمدتاً از طریق حواله صورت می گیرد.

براساس این گزارش، وضع تعزیرات سخت بر ایران از بابت برنامهء جنجال براَنگیز هسته یی این کشور، تهران را با بحران واحد پولی آن کشور دچار ساخته است.

همین مساله سبب شده تا تاجران ایرانی و افراد عادی برای جلوگیری از ضرر بیشتر مالی، در تلاش مبادلهء ریال و تومان به اسعار خارجی عمدتاً دالر امریکایی استند.

از سوی دیگر، نیویارک تایمز می گوید، حکومت ایران هم تلاش می کند تا راه های بدیلی را برای به دست آوردن اسعار خارجی دریابد.

براساس این گزارش، حکومت ایران تلاش دارد، ذخایر اسعار خارجی مثل دالر و یورو را تقویت بخشد تا از یک طرف نرخ مبادله پول این کشور ثبات حاصل کند و از سوی دیگر بتواند پول واردات امتعه را از خارج به این کشور بپردازد.

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي . یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com